مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۹/۰۴

# د کلي انځور

خپله خوځېدنه شاید درته یو څه ستړي او ستومانه ښکاره شي ؛ چې پر خاورینه لاره ، لوړ غرونه ،سړه او پاکه هوا ،شنه کښتونه ،د اوبو او سیندونو زوږ د تنه په کار راولي او په یوه لېږي مسیر باندې د تلو تکل وکړي .

ستا له راتلو سره به سم تر خاورینو خړو دېوالونو ورهاخوا به شنې لوخړې را پورته شي ،چې په اول کې به د درته دا یوه ناهیلې شیبه وي خو همدا مېنه او نغری ستا د بد نظر څخه ساتلی شي، دا نو د هغه بوټو او لرګو لوخړې دي چې د سیمې په ګاونډ غرو او رغو کې موندل کېږي خو په هر حال د سالمې انرژۍ په نشتون د همد غه اور له برکته د تناره په لمبو کوم چې د خوړو ،اوبو او تودخې یوه ښه وسیله ده ، د وړو،زړو او ځوانانوته پرې خواړه چمتو کېږي، څرنګوالی به یې مخې ته په پراته دسترخوان کې په پوره توګه روښانه وي ، پر کوربنو برسېره د بللیو او نا بللیو مېلمنو برخه به د ورځې او شپې په هره برخه کې ځانګړې شوې وي او له لرغوني زماني دوی ته مېلمه پالنې تر دې ارزښت درلود چې د ماښام له خوا یې د ګړۍ په نشتوالي کې یو راختونکی ستوری مېلمه نومولی دی چې تر لوېدو پورې به یې د مېلمه د راتلو او ګډې ماښامنۍ انتظار درلود.
بر دې برسېره په کلیواله ټولنه کې د مېلمه پالنې ریښه تر دې اندازې ژوره ده چې له سلام او روغتیا وروسته یې دریمه پوښتنه د مېلمه پالنې او بلنې اړوند ده ځکه چې دوی دا نه خوښوي چې څوک د وړی او تږی او یا هم پرته د مېلمه پالنې بې بلنې له کلي ولاړ شي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ